بسم الله الرحمن الرحیم

# جریده میـــزان

قوه قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دوشنبه ۱۶ تله ۱۴۰۳ هـ ش | ۴ ربیع الثانی ۱۴۴۶ هـ ق | ۷ اکتوبر ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۷۸)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د ۱۴۴۵ هجري قمري کال په جريان کې د ترسره شويو مهمو فعاليتونو او لاسته راوړنو د راپور لنډيز

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.**

**امابعد:**

الله تعالی د سورت نساء ۵۸ نمبر آيت کې فرمايي:

ژباړه: بېشکه الله تعالی امر کوي په تاسو (اې مؤمنانو!) د دې چې وسپارئ تاسو امانتونه اهل د اماناتو ته او کله چې حکم کوئ تاسو (اې قاضيانو! اې حاکمانو!) په منځ د خلکو کې نو (امر کوي الله چې) حکم وکړئ په انصاف سره.

او همدارنګه لوی څښتن د سورت مائدې ۴۲ نمبر آيت کې فرمايي:

ژباړه: او که حکم (پرېکړه) دې کوله، نو حکم (پرېکړه) وکړه په منځ د دوی کې په عدل (انصاف) سره، بېشکه الله تعالی دوست ګڼي عدل کوونکي (په حکم کې چې ثواب ورکوي دوی ته).

همدا راز الله عزوجل د سورت مائدې ۸ نمبر آيت کې فرمايي:

ژباړه: او نه دې باعث کړي تاسو دښمني د يوه قوم په دې باندې چې عدل (انصاف) به ونکړئ تاسو؛ عدل (انصاف) وکړئ تاسو!؛ همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهېزګاری) ته او ووېرېږئ تاسو له الله (نو ظلم مه کوئ!)؛ بېشکه چې الله ښه خبردار دی په هغه اعمالو چې کوئ يې تاسو.

**محترمو هېوادوالو!** د بشريت لپاره تر ټولو لويه نېکمرغي او خوشحالي په دې کې نغښتې چې حقونه يې تأمين وي، د عقل، مال، عزت او ناموس ساتنه يې وشي، دغه کار يوازې او يوازې هغه مهال امکان لري چې اسلامي نظام حاکم او ټولنه کې د شرعي اصولو په رڼا کې عدالت تأمين وي.

دا هم واضحه او روښانه ده چې نړۍ کې د ملتونو او قومونو ترمنځ اکثريت بدبختۍ، فتنې، زورواکۍ، د مظلومانو د حق ضايع کول او نور بېلابېل ظلمونه هغه مهال رامنځته کېږي چې حکومتونه کمزوري او حکومتي مسؤولين په نفساني خواهشاتو باندې بوخت وي او د اسلامي شريعت د احکامو تطبيق ته پوره ژمن نه وي، قانون يوازې پر مظلومانو او کمزوريو تطبيق کېږي او بالآخره عدالت نه وي تأمين شوی.

که چېرې په هېوادونو کې عدالت نه وي چې ضعيف له زورور او مظلوم له ظالم څخه خلاص کړي، نو نظام به مختل شي، هغه واقعي عدالت چې د هغه لپاره انبياء عليهم السلام مبعوث شوي، هغه عدالت چې د ځمکې او آسمانونو قيام ور پورې تړل شوی، هغه عدالت چې نه د يوې طايفې، نه د نر او ښځې، نه د تور او سپين او نه د مُسلم او غير مُسلم لپاره خاص دی؛ بلکې تړاو او سيوری يې تر حيواناتو هم رسېدلی.

بناءً عدالت يوازينۍ هغه لاره ده چې په انساني ټولنه کې د هرې سرکښۍ او بد بختۍ مخه نيسي، له ظالم څخه د مظلوم حق اخلي او ټولنې ته امن راوړي.

په ياد ولرئ چې د عدالت تأمين او د اشخاصو او افرادو د حقونو د ساتنې يواځينۍ مرجع هغه قضائيه قوه او صحيح قضاوت دی؛ نو له دې وجې د اسلام له نظره د قضاوت ارزښت ډېر مهم دی، قضاء او قضاوت د اسلامي نظام يو اساسي رکن بلل کېږي، ځکه چې موجوده نظام د عدالت په تأمينولو ولاړ دی او يو اسلامي نظام هغه وخت پياوړی وي چې په هغه کې عدالت او انصاف تأمين وي، ترڅو د هر هغه چا چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې ژوند کوي ځان، مال، ناموس او ټول حقوق خوندي وي.

بناءً قضاء په اسلامي نظام کې خپلواکه او خورا ډېر ارزښت لري، اسلامي قضاء د الهي قوانينو او شريعت تنفيذ ته ويل کېږي چې هېڅکله يې تحريف، تغير او تبديل د چا د خواهشاتو لپاره نه دي قبول کړي او نه الله (جل‌جلاله) اجازه

الله تعالی در آیه (۵۸) سوره نساء می‌فرماید:

ترجمه: هر آئینه خدا امر میکند به شما که ادا کنید امانتها را به اهل آن و هنگامیکه حکم میکنید میان مردم که حکم کنید به عدالت.

همچنان خداوند متعال در آیه (٤٢) سوره مائده می‌فرماید:

ترجمه: و اگر فیصله کنی پس فیصله کن میان شان به انصاف هر آئینه خدا دوست میدارد انصاف کننده گان را.

همچنان خداوند متعال در آیه ۸ سوره مائده می‌فرماید:

ترجمه: و باعث نکند شمارا دشمنی قوم بر آنکه انصاف نکنید عدل کنید عدل نزدیکتر است به تقوی و ترسیده باشید از خدا هر آئینه خدا خوب خبردار است به آنچه میکنید.

**هموطنان محترم!** بزرگترین مهربانی و سعادت برای بشریت این است که حقوق شان تأمین شود، از عقل، مال، عزت و ناموس شان محافظت شود، این کار فقط و فقط زمانی امکان پذیر است که نظام اسلامی حاکم باشد و عدالت در پرتو اصول شرعی در جامعه برقرار باشد.

این هم واضح و روشن است که میان اکثریت ملت‌ها و اقوام جهان بدبختی، فتنه، زورمندی و ضایع ساختن حقوق مظلومین و سایر ظلم‌های مختلف زمانی به وجود می آید که دولت‌ها ضعیف باشند و مسؤولین حکومتی مشغول خواهشات نفسانی خود باشند و بر تطبیق احکام شریعت اسلامی متعهد نباشند، قانون فقط بالای مظلومین و مستضعفین تطبیق شود که در نهایت عدالت تأمین نمی‌شود.

اگر در کشورها عدالت تأمین نباشد که ضعیف را از زورمند و مظلوم را از ظالم رها کند، نظام از هم می‌پاشد، آن عدالت واقعی که برای آن انبیاء (علیهم السلام) مبعوث شدند و استقرار زمین و آسمان به آن گره خورده‌است؛ آن عدالت که مخصوص قبیله‌ای مشخص اعم از زن یا مرد، سیاه یا سفید، مسلمان یا غیر مسلمان نیست؛ بلکه ساحهٔ حدود آن بر حیوانات نیز رسیده‌است.

بناءً عدالت تنها راه جلوگیری از هر گونه سرکشی و بدبختی در جامعه بشری است، حق مظلوم را از ظالم می‌گیرد و به جامعه امنیت می‌آورد.

بیاد داشته باشید که تأمین عدالت و حفظ حقوق افراد و اشخاص یگانه مرجع آن قوهٔ قضائیه و قضاوت درست است؛ از این سبب از نظر اسلام ارزش قضاوت خیلی مهم است، قضاء و قضاوت یک رکن مهم نظامی اسلامی محسوب می‌شود؛ زیرا نظام موجوده به تأمین عدالت استوار است و نظام اسلامی وقتی قوی می‌باشد که در آن عدالت و انصاف تأمین باشد، تا آن که هر آن شخص که زیر چتر نظام اسلامی زندگی می‌کند جان، مال، ناموس و تمامی حقوق آن محفوظ می‌باشد.

بناءً قضاء در نظام اسلامی مستقل و خیلی با ارزش می‌باشد، قضاء اسلامی به تنفیذ قوانین الهی و شریعت گفته می‌شود که هیچگاه به اساس خواهشات کسی تحریف، تغییر و تبدیل را قبول نمی‌کند و خداوند (جل‌جلاله) نیز اجازه نمی‌دهد.

**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**۴- العلاء بن الحضرمي (رضي‌الله عنه)**

**لومړۍ برخه**

اصلي نوم يې، عبدالله د عباد زوی او د اکبر لمسی دی، چې اصلي ټاټوبی يې حضرموت دی او پلار يې مکه کې اوسېدلی او علاء (رضي‌الله عنه) هم مکه کې زېږېدلی او لوی شوی دی.

نوموړی يو له هغه کسانو څخه و، چې دعاء به يې حتمي قبلېدله، په ځينو کلماتو او دعاء ويلو سره سمندر باندې تللی دی او کله چې په «بحرين» کې مرتدين ووژل شول، په هغه وژلو کې دده ډېر اغېز و، هغه لومړنی هغه څوک دی چې د فارس په ځمکه کې يې يوه جزيره فتحه کړه او لومړی کس دی چې د غزا لپاره يې سمندر کې تګ کړی دی.

اخذليک: تتمة النظام، ۴۶ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

ورکوي؛ نو له دې وجې اسلام د قضاء لپاره د اشخاصو د ټاکنې ځانګړي اصول وضع کړي، د قضاء د ټاکنو معیار یې استعداد، اهلیت، دیانت، تقوا، امانتداري او ... ښودلي، مسؤولین او منسوبین به یې داسې کسان ټاکل کېږي چې له جرمونو او فساد څخه پاک وي، چې الحمدلله د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې په خپل ټول توان هڅه کړې چې د هېواد په قضائیه قوه کې مسؤولین او منسوبین په پورته معیارونو برابر وټاکي.

درنو او د قدر وړ هېوادوالو! د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د ۱۴۴۵ هجري قمري کال د لاسته راوړنو او ترسره شویو فعالیتونو د یوکلن راپور خلاصه د میزان جریدې په ۷۸مه ګڼه کې درسره شریکوو.

قضائیه قوه د هېواد په ټولو ولایاتو او ولسوالیو کې فعالیت کوي او ټول هېوادوال په ډاډه زړه کولای شي چې د خپلو حقونو د ترلاسه کولو په موخه محاکمو ته مراجعه وکړي او هېوادوالو ته دا ډاډ ورکوو چې قضائیه قوه هر وخت پر دې کار کوي چې څنګه کولای شي په قضائي برخه کې د هېواد والو لپاره لا نورې آسانتیاوې برابرې کړي.

**د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جریان کې د قضائیه قوې تشکیل:**

قضائیه قوه په خپل تشکیلاتي جوړښت کې څلور معاونیتونه لري؛ دوه (۲) قضائي معاونیتونه چې یو یې په مرکز او بل یې په جنوب لوېدیځ زون کې موقعیت لري، یو نظامي معاونیت او یو اداري معاونیت او دوه د تمیز عالي ریاستونه لري چې د تمیز هر ریاست تر خپل چتر لاندې پنځه دېوانونه لري.

دغه راز ستره محکمه په خپل تشکیل کې ټول (۱۹) مرکزي ریاستونه لري چې (۱۲) یې قضائي او (۷) یې اداري ریاستونه دي، قضائیه قوې اړتیا ته په کتو د تېرو کلونو په پرتله خپل قضائي، اداري او د قضائیه قوې د امنیتي او اجرائیوي قطعې تشکیل د پام وړ ډېر کړی دی.

په ۱۴۴۵ هـ ق کال کې د قضائیه قوې ټول تشکیل پنځه لس زره درې سوه او څلورویشت (۱۵۳۲۴) بستونه وو، له دې ډلې څخه درې زره او شپږ(۳۰۰۶) قضائي، پنځه زره او څلور(۵۰۰۴) اداري او همدارنګه اووه زره درې سوه څوارلس(۷۳۱۴) د قضائیه قوې د امنیتي او اجرائیوي قطعې تشکیل دی، دغه راز قضائیه قوه د تېر په پرتله د هېواد په بېلابېلو ولایتونو او ولسوالیو کې د اړتیا په اساس د محاکمو یو شمېر ځانګې فعاله کړې دي چې په دې توګه باید یادونه وکړو چې ستره محکمه په ټول هېواد کې (۳۴ ) ملکي مرافعه محاکم چې هره مرافعه محکمه بیا پر پنځو دېوانونو مشتمله ده او (۳۴) ښاري ملکي ابتدائیه محاکم موجود دي چې هره ښاري ابتدائیه محکمه بیا پر پنځو دېوانونو مشتمله ده او د ولسوالیو په کچه په ټول هېواد کې (۴۲۲) فعاله ابتدائیه ملکي محاکم موجود دي.

دغه راز په ټول هېواد کې (۴) د ځمکو د غصب د مخنیوي محکمې موجودې دي او یوازې په کابل ولایت کې د نشه‌یي توکو پر وړاندې د مبارزې ابتدائیه محکمه فعاله ده چې دوه رسمي دېوانونه لري، په ولایاتو او ولسوالیو کې د نشه‌یي توکو موضوعات د هغه ولایاتو او ولسوالیو اړوند محاکم څېړي.

د یادونې وړ ده چې په ټول هېواد کې د نظامي مرافعه محاکمو شمېر شپږ (۶) دي چې په (۶) اوله درجه ولایاتو کې شتون لري او همدارنګه د نظامي ابتدائیه محاکمو شمېر (۸) دي چې په (۱۷) ولایاتو کې نظامي ځانګې لري او په تمیز او مرافعه محکمو کې د نظامي منسوبینو دېوان هم د نظامي دوسیو څېړنه کوي.

باید ووایو چې د تېرې اداري د ناتطبیق شویو فیصلو د څېړنې په موخه په (۳۴) ولایاتو کې اختصاصي محکمې هم جوړې شوې دي.

**د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جریان کې درې ګونو محاکمو لاندې اجراآت ترسره کړي دي:**

د هېواد د ټولو(۳۴) ولایاتو د محاکمو د قضائي اجراآتو په تړاو احصائیوي راپور چې په ربعوار او کلني شکل راټول شوی او په ډېټابیس کې ثبت شوی دی ښیي چې د (ابتدائیه، مرافعه او تمیز) درې ګونو محاکمو ته د راغلو حقوقي او جزائي قضیو مجموعي ارقام دوه لکه، پنځوس زره، اووه سوه او دوه شپېته (۲۵۰۷۶۲) ته رسیږي، له دې جملې څخه یو لک،پنځه اتیازره، پنځه سوه یو نوي(۱۸۵۵۹۱) قضیو ته رسېدنه شوې چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

الف: ابتدائیه محاکمو ته دوه لکه، درې زره، څلورسوه او اته اویا (۲۰۳۴۷۸) قضیې راجع شوې، له دې قضیو څخه یو لک، یوپنځوس زره، اته سوه او دوه پنځوس (۱۵۱۸۵۲) قضیو ته رسېدنه شوې او پاتې یو پنځوس زره، شپږسوه او شپږویشت (۵۱۶۲۶) قضیې تر کار لاندې دي.

ب: مرافعه محاکمو ته څلور دیرش زره اووه سوه دوه شپېته (۳۴۷۶۲) قضیې راجع شوې له دې جملې یې شپږویشت زره، اته سوه اویا (۲۶۸۷۰) قضیو ته رسېدنه شوې او پاتې اووه زره، اته سوه او دوه نوي (۷۸۹۲) تر کار لاندې دي.

ج: تمیز محاکمو ته دوولس زره، پنځه سوه او دوه ویشت (۱۲۵۲۲) قضیې راجع شوې له دې جملې یې شپږزره، اته سوه او نه شپېته (۶۸۶۹) قضیو ته رسېدنه شوې او پاتې پنځه زره، شپږسوه او درې پنځوس (۵۶۵۳) تر کار لاندې دي.

**د نشه یي توکو اړوند قضیې:**

د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جریان کې محاکمو ته د راجع شوو قضیو له جملې اته زره، څلورسوه او پنځه اتیا(۸۴۸۵) قضیې د نشه‌یي توکو اړوند دي، له دې ډلې یې اته زره پنځه (۸۰۰۵) قضیو ته رسېدنه شوې او پاتې څلورسوه اتیا (۴۸۰) قضیې تر کار لاندې دي.

**د ښځو د حقونو اړوند قضیې:**

د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جریان کې محاکمو ته په راجع شوو قضیو کې پنځه زره، شپږسوه او دوه شپېته (۵۶۶۲) قضیې د ښځو د میراث او د مالکیت شرعي حقونو ته د لاسرسي شاملې وې، له دې جملې یې درې زره، درې سوه او درې اویا (۳۳۷۳) قضیو ته په همدې کال کې رسېدنه شوې او پاتې تر کار لاندې دي.

**د احکامو، فرامینو او مصوباتو د تطبیق او معلوماتو غوښتلو په برخه کې:**

✓د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جریان کې سترې محکمې ته درې سوه او پنځه دېرش(۳۳۵) د افغانستان اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) فرمانونه، حکمونه او د اسلامي امارت د کابینې مصوبات راغلي چې د سترې محکمې د محترم عالي مقام د لارښوونې سره سم یې په اړه اصولي اجراآت شوي دي.

✓په ۱۴۴۵ هـ ق کال کې سترې محکمې ته د ریاست الوزراء محترم مقام، نورو وزارتونو، بنسټونو، شرکتونو، امارتي او غیر امارتي ادارو، امارتي او غیر امارتي بانکونو لخوا مکتوبونه راغلي دي چې د سترې محکمې د عالي مقام له لارښوونو سره سم اړوند ادارو ته لېږل شوي دي.

✓سترې محکمې ته د هېواد د (۳۴) ولایاتو د محاکمو او

از همین جهت اسلام برای تعیین قضات اصول مشخصی را وضع نموده‌است، معیار انتخاب قضاء استعداد، اهلیت، دیانت، تقوا، امانتداری و ... است، مسؤولین و منسوبین به اساس آن تعین می‌شوند که عاری از جرم و فساد باشند، که الحمدلله ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان تمام تلاش خود را به کار گرفته‌است تا مسؤولین و منسوبین در قوهٔ قضائیه را بر اساس معیارات فوق تعیین نماید.

قوهٔ قضائیه در تمام ولایات و ولسوالی‌های کشور فعالیت می‌کند و همه شهروندان می‌توانند با اطمینان خاطر برای بدست آوردن حق خود به محاکم مراجعه کنند و به شهروندان این اطمینان را می‌دهیم که قوهٔ قضائیه همواره در تلاش است که چگونه تسهیلات بیشتری را برای شهروندان در بخش قضائی فراهم کند.

هموطنان عزیز! خلاصهٔ راپور سالانهٔ فعالیت‌ها و دست آوردهای مهم سال ۱۴۴۵هـ ق ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان را در جریدهٔ میزان شماره (۷۸) با شما شریک می‌سازیم.

**تشکیل قوهٔ قضائیه در سال ۱٤٤٥ هـ ق:**

قوهٔ قضائیه در ساختار تشکیلاتی خود چهار(۴) معاونیت دارد؛ دو (۲) معاونیت قضائی که یکی در مرکز و دیگری در زون جنوب غرب موقعیت دارد، یک (۱) معاونیت نظامی و یک (۱) معاونیت اداری و دو (۲) ریاست عالی تمیز دارد که هر یک مشتمل بر پنج (۵) دیوان اند.

همچنان ستره محکمه در تشکیل خود دارای (۱۹) ریاست مرکزی است که (۱۲) آن قضائی و (۷) آن اداری است، با توجه به نیاز قوهٔ قضائیه نسبت به سال‌های گذشته تشکیل قضائی، اداری و قطعهٔ اجرائیوی و امنیتی قوهٔ قضائیه افزایش چشمگیری داشته است.

در سال ١٤٤٥هـ ق تمام تشکیلات قوهٔ قضائیه پانزده هزار و سیصد و بیست و چهار بست (١٥٣٢٤) بوده که از این میان سه هزار و شش (٣٠٠٦) بست قضائی، پنج هزار و چهار (٥٠٠٤) بست اداری و همینطور هفت هزار و سیصد و چهارده (٧٣١٤) بست تشکیل قطعهٔ محافظتی اجرائیوی و امنیتی قوهٔ قضائیه بود.

همچنان نسبت به گذشته قوهٔ قضائیه بر اساس نیاز تعدادی از بخش‌های محاکم را در ولایات و ولسوالی‌های مختلف کشور فعال کرده‌است در این مورد قابل یادآوریست که (٣٤) محاکم مرافعه ملکی در سراسر کشور وجود دارد که هر مرافعه متشکل از پنج (٥) دیوان است و (٣٤) محاکم ابتدائیهٔ ملکی شهری وجود دارد که هر محکمه دارای پنج (٥) دیوان است و (٤٢٢) محاکم ابتدائیهٔ ملکی در تمام ولسوالی‌های کشور فعال است.

علاوه بر این (٤) محاکم جلوگیری از غصب زمین در سراسر کشور وجود دارد و فقط در ولایت کابل محکمهٔ ابتدائیهٔ مبارزه با مواد مخدر فعال است که دارای دو دیوان رسمی است و در ولایات و ولسوالی‌ها مسائل مربوط به مواد مخدر در محاکم مربوطهٔ آن ولایات و ولسوالی‌ها بررسی می‌شود.

قابل یادآوریست که تعداد محاکم مرافعهٔ نظامی در تمام کشور شش (٦) است که در (٦) ولایت درجه اول موجود می‌باشد؛ همچنین تعداد محاکم ابتدائیهٔ نظامی (٨) است که در (١٧) ولایات بخش نظامی دارد و دیوان منسوبین نظامی در محاکم تمیز و مرافعه نیز به دوسیه‌های نظامی رسیدگی می‌کند.

باید بگوئیم که محاکم اختصاصی در (٣٤) ولایات به منظور رسیدگی به فیصله‌های ناتطبیق شده ادارهٔ قبلی نیز ایجاد شده‌است.

**در سال ١٤٤٥ هـ ق محاکم سه گانه به شرح زیر اجراآت نموده‌است:**

گزارش احصائیوی اجراآت قضائی تمام محاکم (٣٤) ولایات کشور که بصورت ربعوار و سالانه جمع آوری و ثبت دیتابیس شده نشان میدهد که مجموع دوسیه‌های حقوقی و جزائی وارد شده به محاکم سه گانه (ابتدائیه، مرافعه و تمیز) به (٢٥٠٧٦٢) میرسد که از این جمله به (١٨٥٥٩١) دوسیه رسیدگی صورت گرفته‌است که تفصیل آن بشرح ذیل می‌باشد:

الف:(٢٠٣٤٧٨) قضیه به محاکم ابتدائیه راجع شده که از این تعداد به (١٥١٨٥٢) قضیه رسیدگی صورت گرفته و (٥١٦٢٦) قضیه تحت کار است.

ب:(٣٤٧٦٢) قضیه به محاکم مرافعه راجع شده که از این تعداد به (٢٦٨٧٠) قضیه رسیدگی صورت گرفته و (٧٨٩٢) قضیه تحت کار است.

ج:(١٢٥٢٢) قضیه به محاکم تمیز راجع شده که از این تعداد به (٦٨٦٩) قضیه رسیدگی صورت گرفته و (٥٦٥٣) قضیه تحت کار است.

**قضایای مربوط به مواد مخدر:**

از تعداد قضایای راجع شده به محاکم در سال ١٤٤٥هـ ق، (٨٤٨٥) قضیه مربوط به مواد مخدر است که از این تعداد به (٨٠٠٥) قضیه رسیدگی صورت گرفته و (٤٨٠) قضیه تحت کار است.

**قضایای مربوط به حقوق زنان:**

از قضایای راجع شده به محاکم در سال ١٤٤٥هـ ق، (٥٦٦٢) قضیه شامل دسترسی به حقوق مالکیت شرعی و میراث زنان است که از این تعداد به (٣٣٧٣) قضیه در همین سال رسیدگی صورت گرفته و متباقی تحت کار است.

**در بخش درخواست معلومات و تطبیق احکام، فرامین و مصوبات:**

✓ در جریان سال ١٤٤٥هـ ق (٣٣٥) قطعه فرامین و احکام زعیم امارت اسلامی افغانستان عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله)، و مصوبات کابینهٔ امارت اسلامی افغانستان به ستره محکمه مواصلت نموده که بر اساس دستورالعمل مقام عالی ستره محکمه پیرامون آن اجراآت اصولی صورت گرفته است.

✓ در سال ١٤٤٥هـ ق از طرف مقام محترم ریاست الوزراء، سایر وزارت‌خانه‌ها، مؤسسات، شرکت‌ها، ادارات امارتی و غیر امارتی، بانک‌های امارتی و غیر امارتی مکاتیب متعدد به ستره محکمه مواصلت نموده که طبق دستورالعمل ستره محکمه به ادارات ذیربط ارسال شده‌است.

✓ دوسیه‌های مربوط به انتقال صلاحیت، استهدآآت، تجدیدنظر، تبدیلی محکمه و تقاضای رهنمایی از طرف

د مرکزي رياستونو لخوا د صلاحيت سپارلو، د استهداګانو، د تجديد نظر، د محکمې د تبديلۍ او د لاربښوونې غوښتلو په تړاو دوسيې راغلې دي چې د سترې محکمې د عالي مقام لخوا يې په اړه اصولي اجراآت ترسره شوي دي.

✓د هېواد د ولاياتو د مرافعه محاکمو، د ځمکو د غصب د مخنيوي محاکمو، د ځمکو د غصب د مخنيوي کمېسيون او نورو امارتي ادارو څخه د قبالو او نورو وثايقو په اړه د معلوماتو غوښتلو په موخه سترې محکمې ته څلور سوه او نهه اتيا (۴۸۹) مکتوبونه رالېږل شوي چې په اړه يې اصولي اجراآت شوي دي.

**د سترې محکمې عالي شورا په برخه کې:**

●د ۱۴۴۵ هـــ ق کال په جريان کې د سترې محکمې عالي شورا (۳۸) غونډې ترسره کړې دي چې په دې غونډو کې د يوسل او يو نوي (۱۹۱) بېلابېلو موضوعاتو په تړاو پرېکړې شوې دي.

**د زندانيانو په برخه کې:**

●د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې، د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د حکم په اساس د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې د کوچني او لوی اختر په مناسبت دوه زره، درې سوه او څلور (۲۳۰۴) مستحق کسان له بنده خوشي کړي او د يو زره، نهه سوه او شل (۱۹۲۰) بنديانو د بند په موده کې يې تخفيف ورکړی دی.

●دغه راز د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم عالي مقام په هدايت د محاکمو لخوا ټاکل شوو پلاوو وخت پر وخت له اړوند زندانونو ليدنې او نظارت کړی دی، له زندانيانو سره يې له نږدې خبرې کړې او د دوی ستونزې او اړتياوې يې اورېدلې او له اړوند ادارو سره شريک کړي دي.

**د محاکمو د چارو د ځانګړې څارنې په برخه کې:**

د محاکمو د چارو د نظارت او څارنې په موخه د سترې محکمې په تشکيل کې بېلا بېلو ټاکل شوو پلاوو د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې هر ولايت ته جلا، جلا سفرونه کړي او د يادو ولايتونو د ټولو مرافعه، ابتدائيه، نظامي او نورو محاکمو اړوند چارې يې له نږدې کتلې او د چارو د لا ښه‌والي په موخه يې مسؤولينو ته لازم هدايات کړي دي.

**د محاکمو او نورو امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ د تقويې په برخه کې:**

د محاکمو او نورو امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ د تقويې په موخه يوه ټاکلي پلاوي د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په ځانګړي هدايت د هېواد ډېرو ولايتونو ته سفرونه کړي، د والي صاحبانو په ګډون يې د ټولو ولايتي ادارو له مسؤولينو سره غونډې کړې او د امارتي ادارو ترمنځ د لا ښې همغږۍ پر لارو چارو يې تفصيلي خبرې کړې دي.

دغه راز د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې د مرافعه محاکمو رئيسانو د اړتيا پر مهال له اړوند ولايتي مسؤولينو سره د همغږۍ ناستې کړې او د امارتي ادارو ترمنځ همغږي يې تقويه کړې، په دې سربېره د مرافعه محاکمو رئيسانو او نورو ټاکل شوو پلاوو څو ځله له ښاري ابتدائيه محاکمو، د ولسواليو ابتدائيه محاکمو او نورو محاکمو څخه ليدنې کړې، د محاکمو پر مسؤولينو سربېره يې د نورو امارتي ادارو له مسؤولينو سره کتلي او د ادارو ترمنځ د همغږۍ پر تقويې يې ورته هدايات کړي دي.

**د مراجعينو ستونزو ته د رسېدنې په برخه کې:**

د افغانستان اسلامي امارت محاکمو حق حقدار ته د سپارلو او د خلکو ستونزو ته د رسېدنې لپاره لاندې آسانتياوې رامنځته کړې دي:

الف: د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې زرګونو هېوادوالو د خپلو ستونزو د حل په موخه اړوند محاکمو ته مراجعه کړې او په مستقيم ډول يې د مسؤولينو لخوا ستونزې اورېدل شوې دي.

ب: د ۱۴۴۵ هـ ق په جريان کې د مافوق محاکمو مسؤولينو څو څو ځله له ماتحت محاکمو د ليدنې پر مهال له مراجعينو سره ناستې کړې او د دوی ستونزې او نظرونه يې اورېدلي او ستونزو ته يې رسېدنه شوې.

ج: د ۱۴۴۵ هـ ق په جريان کې د سترې محکمې عالي مقام لخوا د يو شمېر هغه هېوادوالو عريضې کتل شوې او ستونزو ته يې رسېدنه شوې چې د خپلې موضوع اړوند يې عالي مقام ته عريضې کړې وې.

**د محکمې د تبديلۍ په برخه کې:**

د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې د محکمې د تبديلۍ غوښتلو په برخه کې د يو زر، اووه سوه او اته نوي (۱۷۹۸) جزائي، مدني، تجارتي او فاميلي موضوعاتو په تړاو د اصولو سره سم اړين تصاميم نيول شوي او په اړه يې اصولي اجراآت ترسره شوي دي.

**د تجديد نظر، عرايضو، دوسيو ته د رسېدنې او څېړنې په برخه کې:**

●د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې د تجديد نظر او د عرايضو د ارزونې په برخه کې درې سوه او اته اويا (۳۷۸) موضوعات راغلي چې په اړه يې اصولي اجراآت ترسره شوي دي.

**د فيصلو د صلحې او تطبيق په برخه کې:**

●د ۱۴۴۵ هـ ق په جريان کې محاکمو کې د قطعي او وروستيو احکامو په ګډون د زرګونو دوسيو تطبيق او تنفيذ شوی دی.

●د ۱۴۴۵ هـ ق په جريان کې په محاکمو کې د قضيو د ډېرېدو د مخنيوي او مراجعينو ته د اسانتياوو رامنځته کولو په موخه د صلحې له لارې يو څلويښت زره، څلورسوه او نهه دېرش (۴۱۴۳۹) حقوقي قضيې حل شوې دي.

**د استهداآتو او استفتاآتو په برخه کې:**

●د اړونده محاکمو له لورې يوولس سوه نوي(۱۱۹۰) استهداآت او استفتاء ګانې راغلې دي چې د اصولو په رڼا کې ځواب شوې او کومو چې عامه جنبه درلوده د متحدالمآل په ذريعه ټولو محاکمو ته لېږل شوې دي.

**د قضائي او اداري کارکوونکو د وړتيا لوړونې په برخه کې:**

الف: د قضائي کارکوونکو د وړتيا لوړونې په برخه کې: د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې د هېواد (۳۴) ولايتونو د محاکمو اړوند (۷۴۲) تازه مقرر شويو قاضيانو، مفتيانو او محررينو لپاره د قضاء او افتاء په برخه کې د ظرفيت لوړونې په موخه علمي او عملي پروګرامونه تطبيق شوي.

ب: د اداري برخې کارکوونکو د وړتيا لوړونې په برخه کې: د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې د سترې محکمې د مرکزي اداري کارکوونکو د علمي او مسلکي ظرفيت لوړولو په موخه د رهبرۍ او مديريت، مديريتي او کمپيوټري مهارتونو تر سرليک لاندې يو شمېر سيمينارونه جوړ شوي دي.

**د مقرراتو او قانوني اسنادو د تحليل او ترتيب په برخه کې:**

د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جريان کې د سترې محکمې لوړ رتبه محاکم (۳٤) ولايات کشور و رياست‌های مرکزی به ستره محکمه مواصلت نموده که از طرف مقام عالی ستره محکمه در مورد اجراآت اصولی صورت گرفته‌است.

✓ به منظور درخواست معلومات از محاکم مرافعه ولايات، محاکم جلوگيری از غصب زمين، کميسيون جلوگيری از غصب زمين‌ها و ساير ادارات امارتی در مورد قباله و ساير وثايق (٤٨٩) قطعه مکتوب به ستره محکمه مواصلت نموده که در مورد اجراآت اصولی صورت گرفته است.

**در بخش شورای عالی ستره محکمه:**

● شورای عالی ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان طی سال ١٤٤٥ هـ ق (٣٨) جلسه دائر نموده که در اين جلسات پيرامون (١٩١) موضوع مختلف تصاويب خويش را صادر نمودند.

**در بخش زندانيان:**

● ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان به مناسبت عيد سعيدالفطر و عيد قربان طی سال ١٤٤٥هـ ق به اساس حکم عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) (٢٣٠۴) زندانی مستحق عفو را از زندان‌های کشور آزاد نمودند و در مدت حبس (١٩٢٠) زندانی ديگر تخفيف داده‌است.

● همچنان به اساس هدايت مقام محترم ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان هيئت‌های مؤظف محاکم وقت به وقت از تمام زندان‌ها بازديد و نظارت نموده از وضعيت زندانيان از نزديک معلومات حاصل کردند و مشکلات و ضروريات آنها را استماع و با ادارات مربوطه شريک ساخته‌است.

**در بخش نظارت خاص امور محاکم:**

به منظور ديدن و نظارت بر امور محاکم هيئت‌های مختلف تعين شده در تشکيل ستره محکمه طی سال ١٤٤٥ هـ ق سفرهای جداگانه به هر ولايت داشتند و تمام امور محاکم ابتدائيه، مرافعه، محاکم نظامی و ديگر محاکم مربوطه را از نزديک مشاهده کرده اند و بخاطر بهبود امور به مسؤولين محاکم هدايات لازم داده اند.

**در بخش تقويت هماهنگی ميان محاکم و ادارات ديگر امارتی:**

به اساس هدايت خاص محترم شيخ عبدالحکيم (حقانی) صاحب قاضی القضات و رئيس ستره محکمه يک هيئت مؤظف در جريان سال ١٤٤٥ هـ ق بخاطر تقويت هماهنگی ميان محاکم و ادارات ديگر امارتی به اکثر ولايات کشور سفر نمودند، بشمول والی صاحبان با تمام مسؤولين ولايتی نشست نموده و در رابطه به راه های تقويت هماهنگی ميان ادارات امارتی مفصلاً بحث و گفتگو کرده‌اند.

همچنان در جريان سال ١٤٤٥هـ ق رؤسای محاکم مرافعه به اساس نياز با مسؤولين ادارات ديگر امارتی جلسه هماهنگی برگزار نمودند که ميان ادارات امارتی هماهنگی را تقويت نموده‌است، علاوه بر آن رؤسای محاکم مرافعه و هيئت‌های مؤظف چندين بار از محاکم ابتدائيهٔ شهری، محاکم ابتدائيهٔ ولسوالی‌ها و محاکم مربوطهٔ ديگر بازديد نموده، و برعلاوهٔ مسؤولين محاکم با مسؤولين ادارات ديگر امارتی ملاقات کردند و در رابطه به تقويت هماهنگی آنها را هدايت نموده‌اند.

**در بخش رسيدگی به مشکلات مراجعين:**

محاکم امارت اسلامی افغانستان بخاطر سپردن حق به حقدار و رسيدگی به مشکلات مراجعين سهولت‌های ذيل را فراهم نموده‌است:

الف: در جريان سال ١٤٤٥هـ ق هزاران تن از هموطنان ما بخاطر حل مشکلات شان به محاکم مربوطه مراجعه نموده که مشکلات شان از طرف مسؤولين محاکم مستقيماً استماع گرديده است.

ب: مسؤولين محاکم مافوق طی سال ١٤٤٥ هـ ق چندين بار در جريان بازديد و نظارت از امور محاکم ماتحت با مراجعين آن محاکم نيز ملاقات کردند و بعد از استماع نظريات و مشکلات شان به مشکلات آنها رسيدگی نموده اند.

ج: طی سال ١٤٤٥هـ ق عرايض آنعده از مراجعين که به مقام عالی عارض شده اند از طرف مقام عالی ستره محکمه ملاحظه و به مشکلات شان رسيدگی صورت گرفته‌است.

**در بخش تبديلی محکمه:**

در بخش در خواست تبديلی محکمه در جريان سال ١٤٤٥هـ ق به (١٧٩٨) موضوعات جزائی، مدنی، تجارتی و فاميلی تصاميم لازم اتخاذ شده و اقدامات اصولی در اين زمينه صورت گرفته‌است.

**در بخش نظارت و رسيدگی به دوسيه‌ها، عرايض و تجديد نظر:**

● طی سال ١٤٤٥هـ ق (٣٧٨) موضوع در بخش ارزيابی عرايض تجديد نظر مواصلت نموده که در مورد آن اجراآت اصولی انجام شده‌است.

**در بخش تطبيق فيصله‌های صلح:**

● طی سال ١٤٤٥هـ ق هزاران دوسيه از جمله احکام قطعی و نهائی توسط محاکم تطبيق و تنفيذ شده‌است.

● طی سال ١٤٤٥هـ ق بخاطر جلوگيری از ازدحام قضايا در محاکم و ايجاد سهولت به مراجعين (٤١٤٣٩) قضيهٔ حقوقی از طريق صلح ميان جانبين حل و فصل شده‌است.

**در بخش استهداآت و استفتاآت:**

● طی سال ١٤٤٥هـ ق در رابطه به (١١٩٠) استهداء و استفتاء طبق اصول پاسخ داده شده و موضوعات که جنبهٔ عام داشت به شکل متحدالمآل به تمام محاکم کشور تکثير شده‌است.

**در بخش ارتقای ظرفيت کارمندان قضائی و اداری:**

الف: ارتقای ظرفيت اعضای قضائی محاکم: طی سال ١٤٤٥هـ ق بخاطر ارتقای ظرفيت (٧۴٢) تن از قضات جديدالتقرر، مفتيان و محررين محاکم (٣٤) ولايات کشور در بخش قضاء و افتاء سيمينارهای علمی و عملی راه اندازی شده‌است.

ب: ارتقای ظرفيت کارمندان اداری محاکم: طی سال ١٤٤٥هـ ق بخاطر ارتقای ظرفيت کارمندان اداری مرکزی ستره محکمه سيمينارهای آموزشی در بخش‌های رهبری و مديريت، مهارت‌های مديريتی و کمپيوتر راه اندازی شده است.

**سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحيم (راشد)**
**اديتور : جوادالله (جاهد)**
**ډيزاين: حميدالله (راسخ)**

**د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه**
**په مياشت کې درې ځله چاپيږي**

مسلکي پلاوي لـه لوري (۲۷) مسودې ترتيب شـوې دي.

**د تفتيش په برخه کې:**

●د ۱۴۴۵ هـ ق کال پـه جريان کې د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست د هېواد د (۳۴) ولاياتـو د محاکمـو تفتيش او بررسي ترسره کړې او د خپلو اجراآتو راپورونـه يې د سترې محکمې عالي مقام تـه وړاندې کړي دي.

●پـه محاکمـو کې د سترې محکمې د عالي شـورا لـه اصولو ،مصوبو، مقرراتو، متحدالمآلونـو او اصولنامې د پـر وخت تطبيق څخـه دوامداره څارنه شـوې او همدارنګه په محاکمو کې واحـد قضائي طرزالعمل پلی شوی.

●د ۱۴۴۵ هـ ق کال پـه جريان کې د سترې محکمې قضائي مفتشينو د ولاياتـو لـه زندانونـو او توقيف‌خونـو څخـه ليدنـه او تفتيش ترسـره کـړی چې د زرګونـو زندانيانـو ستونزې، اړتيـاوې او وړانديزونـه يې د سترې محکمې لـه محترم عالي مقـام سره شـريک کـړي او پـه اړه يې اصولي اجراآت تر سـره شـوي دي.

●د سترې محکمې د عالي مقـام د لارښـوونې پـه اساس د ۱۴۴۵ کال پـه جريـان کې د مرکـز او ولاياتـو د محاکمـو د اجراآتـو پنځـه سوه او يوشپېته (۵۶۱) د اقتضائي موضوعاتو عريضې د څېړنې پـه موخـه د تفتيش عمومي رياسـت تـه سپارل شـوې دي چې لـه يـادو عريضـو څخـه پنځـه سوه او دري دېرش (۵۳۳) د اصولـو او مقرراتـو سره سم څېړل شـوې او پـه اړه يـې تفتيـش ترسـره شـوی او پاتې نـورې ترکار لانـدې دي.

**د وثيقو په برخه کې:**

د ۱۴۴۵ هـ ق کال پـه جريـان کې د ټولـو ولاياتو لـه محاکمو څخـه د بېلابېلو اجرا شـويو شـرعي وثيقو پـه تـړاو احصائيوي راپـور ښـيي چې پـه همـدې کال کې يو لک، نهـه اويـازره، اته سـوه اتلس (۱۷۹۸۱۸) وثيقې اجرا شـوې دي.

**د مالـي او اداري چارو په برخه کې:**

●د قضائيـه قـوې بوديجـه د ماليـې محتـرم وزارت د اصولنامې او متحـد المآلونـو پـه پـام کې نيولـو سره پـه مسـاوي بڼـه ټولـو محاکمـو تـه وېشـل شـوې ده چې يـاده بوديجـه پـه (قضائي، اداري او د امنيتي او اجرائيـوي چارو رياسـت) پـه معاشـاتو، متفرقـه لګښـتونو او نـورو د اړتيا وړ ځايونـو کې لګـول شـوې ده.

●پـه ۱۴۴۵ هـ ق کال کې د سترې محکمې، مرکـزي او ولايتي محاکمـو اړونـد لـس (۱۰) ترميماتـي لويې او وړې پـروژې د منظـور شـوې بوديجې مطابـق پـه اساسي ډول پلې شـوې او د نـورو پراختيايـي پـروژو لپاره هـم لومړني او اړيـن کارونـه ترسـره شـوي دي.

●پـه ۱۴۴۵ هـ ق کال کې قضائيـه قـوې د اړتيـاوو د پـوره کولـو پـه موخـه (۳۴) لوژيسـتيکي، ترميماتـي او د بيارغونې قراردادونـه پـر خپـل وخـت ترسـره کړي دي.

**د معلوماتـي ټکنالوژۍ په برخه کې :**

● د قضائيـه قـوې د محاکمـو د امنيتـي کمـرو او موجـود الکترونيکـي سيسـتمونه فعـال سـاتل شـوي، دغـه راز د محاکمـو لپـاره د انټرنـټ او ډيجيټلي ټليفونونـو د فعالولـو پـه برخـه کې زيـات شـمېر خدمتونـه سرتـه رسـېدلي دي.

**د بهرنيو اړيکو او مطبوعاتو په برخه کې:**

●پـه کابـل کې د ميشـتو نړيوالو بنسـټونو او بهرنيو سـفارتونو لـه اسـتازو سـره د بېلابېلـو مسـايلو پـه اړه د همغـږۍ غونډې ترسـره شوې دي.

●پـه ۱۴۴۵هـ ق کال کې د ميـزان جريـدې (۳۹) نـوې ګڼې او د قضـاء مجلې چې پـر شـرعي، حقوقي او قضائي موضوعاتـو مشـتمله وي (۴) ګڼې چـاپ او پـر ټولـو اړونـد محاکمـو او بېلابېلـو امارتـي ادارو وېشـل شـوې دي.

●پـه ۱۴۴۵ هـ ق کال کې د محاکمـو ورځنـي، اونيـز، ربعـوار او کلني فعاليتونـه د سترې محکمې د رسـمي پاڼو لـه لارې پـه (پښـتو، دري، عربـي او انګليسي) ژبـو ترتيـب او نشـر شـوي دي.

**د قضائيـه قـوې د امنيتي او اجرائيـوي چارو په برخه کې:**

●د امنيتي او اجرائيوي چـارو قطعـه چې د قضائيـه قـوې د قضائي او اداري پرسـونل او منسـوبينو امنيتـي چـارې پرغـاړه لـري، دغـه راز د هېـواد د (۳۴) ولايتونـو د محاکمـو پـه امنيـت کې مهـم رول لوبولـی چې الحمدلله د تېـر يـوه کال پـه جريـان کې نـه پـه مرکـزي او نـه هـم پـه ولايتي محاکمـو کې امنيتـي پېښـه ثبـت شـوې ده، د سترې محکمې د محتـرم عالي مقـام د حکـم پـه اساس د نومـوړې قطعې د نظامـي منسـوبينو لپـاره پـه بېلابېلـو برخـو لکـه: نظامـي او مسـلکي زده کـړو لپـاره ښـوونيز ميدانونـه، زيربنايـي او د دوی د اړتيـا وړ نـورې لازمـي اسـانتياوې رامنځتـه شـوې دي.

●د امنيتـي او اجرائيـوي چـارو عمومـي قطعـې د نظامي منسـوبينو د غـوره درملنې لپـاره مجهـز روغتيايـي کلينيـک جـوړ شـوی دی.

●د وسايطو د ترميم په موخه مجهز ورکشاپ جوړ شوی دی.

●د يـادې قطعې د نظامي منسـوبينو لپـاره نظامي تعليمي مرکـز جـوړ شـوی چې د ښـوونيز مرکـز لـه لارې د اړونـد قطعې مجاهدينـو تـه پـه نظامي برخـو کې مسـلکي زده کړې ورکـړل شـوې دي.

**راتلونکي پلانونه:**

●د قضائيـه قـوې پنځـه کلـن سـتراتيژيک پـلان لـه (۱۴۰۴ تـر ۱۴۰۹) هـ ش کال پـورې ترتيبـول.

●د رياسـت الـوزراء د عالي مقـام لخـوا د تصويب وروسـته د اداري فسـاد سـره د مبـارزې لپـاره د پنځـه کلـن پـلان تجريـد او بيـا د سترې محکمې ټولـو پلي کوونکـو څانګـو تـه تکثيـرول.

●د قضائيـه قـوې د ۱۴۰۴هـ ش مالي کال د تشـکيل ترتيبول.

●د قضائيـه قـوې د ۱۴۰۴هـ ش مالي کال د بوديجـوي اړتيـاوو ترتيـب او لـه اړونـدو مسـؤولينو سـره يې شـريکول.

●د محاکمـو د سـاتنې قطعاتـو د نظامي منسـوبينو لپـاره د يونيفـورم تثبيـت او توزيـع .

**در بخش ترتيب و تحليل مقررات و اسنادهای قانونی:**

طی سـال ۱٤٤٥هـ ق از طـرف هيئـت عالـی رتبـهٔ سـتره محکمـه (۲۷) مسـوده ترتيـب شده‌اسـت.

**در بخش تفتيش:**

● در سـال ۱٤٤٥هـ ق رياسـت عمومـی تفتيـش قضائـی سـتره محکمـه تفتيـش و بررسـی محاکـم (۳٤) ولايـات کشـور را انجـام داده و گـزارش اجراآت خـود را بـه مقـام عالـی سـتره محکمـه تقديـم نمـوده اسـت.

● نظـارت دوامـدار بـر اجـرای بـه موقـع اصولنامه‌هـا، متحدالمال‌هـا، مقـررات و مصوبـات طبـق اصـول شـورای عالـی سـتره محکمـه در محاکـم و همچنـان اجـرای طرزالعمـل واحـد قضائی در محاکـم صـورت گرفتـه اسـت.

● طـی سـال ۱٤٤٥هـ ق مفتشـين قضائـی سـتره محکمـه از زندان‌هـا و توقيف‌خانه‌هـای ولايـات بازديـد و تفتيـش نمودنـد کـه مشـکلات، نيازهـا و پيشـنهادات هـزاران زندانـی را بـا مقـام عالـی سـتره محکمـه شـريک سـاخته و در مـورد اجـراآت اصولـی صـورت گرفتـه اسـت.

● بـه اسـاس دسـتور مقـام عالـی سـتره محکمـه طـی سـال ۱٤٤٥هـ ق (٥٦۱) قطعـه عرايـض موضوعـات اقتضائـی از محاکـم مرکـز و ولايـات بـه هـدف بررسـی بـه رياسـت عمومـی تفتيـش قضائـی تقديـم گرديـده بـود کـه بـه تعـداد (٥۳۳) عريضـه طبـق اصـول و مقـررات بررسـی و مـورد تفتيـش قـرار گرفتـه و متباقـی تحـت کار اسـت.

**در بخش وثايق:**

گـزارش احصائيـوی مربـوط وثايـق شـرعی اجـرا شـده مختلـف از محاکـم تمـام ولايـات طـی سـال ۱٤٤٥هـ ق نشـان می‌دهـد کـه در هميـن سـال بـه تعـداد (۱۷۹۸۱۸) قطعـه وثايـق مختلـف النـوع اجـراء شده‌اسـت.

**در بخش مالی و اداری:**

● بودجـه قـوهٔ قضائيـه بـر اسـاس متحدالمآل‌هـا و اصولنامـه وزارت ماليـه بيـن تمـام محاکـم بطـور مسـاوی توزيـع گرديده‌اسـت کـه بودجـهٔ يادشـده (قضائـی، اداری و رياسـت امـور اجرائيـوی و امنيتـی) در بخـش معاشـات، مصـارف متفرقـه و سـاير جاهـای ضـروری مصـرف گرديـده اسـت.

● در جريـان سـال ۱٤٤٥هـ ق (۱۰) پـروژهٔ بـزرگ و کوچـک ترميماتـی مربـوط بـه سـتره محکمـه، محاکـم مرکـزی و ولايتـی بـه شـکل اساسـی تطبيـق شـده، کارهـای ابتدائـی و ضـروری تعـداد ديگـر از پروژه‌هـای انکشـافی نيـز انجـام شـده اسـت.

● طـی سـال ۱٤٤٥هـ ق بخاطـر رفـع نيازمندی‌هـای قـوهٔ قضائيـه در بخش‌هـای لوژيسـتيک، ترميـم و بازسـازی (۳٤) قـرارداد در زمـان معيـن آن صـورت گرفته‌اسـت.

**در بخش تکنالوژی معلوماتی:**

● دوربين‌هـای امنيتـی و سيسـتم‌های الکترونيکـی موجـود محاکـم قـوهٔ قضائيـه فعـال نگهداشـته شـده، همچنـان تعـداد زيـادی خدمـات در زمينـهٔ فعـال سـازی انترنـت و تليفون‌هـای ديجيتـال بـرای محاکـم انجـام شده‌اسـت.

**در بخش روابط خارجی و مطبوعات:**

● جلسـات هماهنگـی بـا نماينـدگان نهادهـای بيـن المللـی و سـفارت‌خانه‌های خارجـی مسـتقر در کابـل در مـورد موضوعـات مختلـف برگـزار شده‌اسـت.

● طـی سـال ۱٤٤٥هـ ق (۳۹) شـماره جريدهٔ ميزان و (٤) شـماره مجلـهٔ قضـاء کـه شـامل موضوعـات شـرعی، حقوقـی و قضائـی اسـت چـاپ و بـر تمـام محاکـم کشـور و ادارات ديگـر امارتـی نيـز تکثيـر گرديده‌اسـت.

● طـی سـال ۱٤٤٥هـ ق در رابطـه بـه اجراآت و فعاليت‌هـای روزمـرهٔ، ربعـوار و سـالانه محاکـم کشـور هزارهـا گـزارش بـه زبان‌هـای (پشـتو، دری، عربـی و انگليسـی) تهيـه و از طريق ويـب سـايت و آدرس‌هـای ديگـر رسـمی سـتره محکمـه نشـر گرديده‌اسـت.

**در بخش امور امنيتی و اجرائيوی قوهٔ قضائيه:**

● قطعـه امـور امنيتـی و اجرائيـوی کـه مسـؤوليت امـور امنيتـی منسـوبين پرسـونل قضائـی و اداری قـوهٔ قضائيـه را بـر عهـده دارد، همچنـان نقـش مهمـی در تأميـن امنيـت محاکـم (۳٤) ولايـت کشـور دارد الحمدلـله طـی يـک سـال گذشـته هيـچ حادثـهٔ امنيتـی در محاکـم مرکـزی و ولايتـی ثبـت نشده‌اسـت، بـه اسـاس حکـم مقـام عالـی سـتره محکمـه بـرای پرسـونل نظامـی ايـن قطعـه در بخش‌هـای مختلـف از جملـه: زمينـه هـای آمـوزش مسـلکی، زيربناهـا و سـاير امکانـات لازم بـرای آمـوزش نظامـی و حرفـه‌ای ايجـاد شده‌اسـت.

● کلينيـک طبـی مجهـز بـرای معالجـهٔ بهتـر پرسـونل نظامـی قطعـه عمومـی امـور امنيتـی و اجرائيـوی سـاخته شده‌اسـت.

● ورکشـاپ مجهـز بـرای ترميـم وسـايط ايجـاد گرديـده اسـت.

● مرکـز تعليمـی نظامـی بـرای نيروهـای نظامـی ايـن قطعـه ايجـاد شده‌اسـت کـه از طريـق مرکـز آموزشـی بـه مجاهديـن واحـد مربوطـه آموزش‌هـای حرفـه‌ای در زمينه‌هـای نظامـی داده شده‌اسـت.

**پلان های آينده:**

● تنظيـم پـلان سـتراتيژيک پنـج سـالهٔ قـوهٔ قضائيـه از سـال (۱٤۰٤ تـا ۱٤۰۹)هـ ش.

● توزيـع خلاصـه پـلان پنـج سـالهٔ مبـارزه بـا فسـاد اداری پـس از تصويـب توسـط مقـام عالـی رياسـت الـوزراء بـه تمـام بخش‌هـای تطبيـق کننـده سـتره محکمـه.

● ترتيـب تشـکيل قـوهٔ قضائيـه بـرای سـال مالـی ۱٤۰٤هـ ش.

● ترتيـب ضروريـات بودجـهٔ سـال مالـی ۱٤۰٤ هــ ش قـوهٔ قضائيـه و شـريک سـاختن آن بـا مسـؤولين ذيربـط.

● تثبيـت و توزيـع لبـاس يونيفـورم بـرای پرسـنل نظامـی قطعـات محافظتـی محاکـم.

**ميزان**

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳